# مل پاسوال محمدایوب انصاري دلوګرامنیه قومندان په توګه خپل دنده پیل کړه

مل پاسوال محمدایوب انصاري، چې دکورنیوچارو وزارت په وړاندیز او دولسمشر



محمداشرف غني د ۷۲۱ ګڼې حکم په اساس دلوګرنوې امنیه قومندان په توګه ټاکل شوی، دغبرګولې په ۱۲مه ددې ولایت امنیې قومندانۍ منسوبینواو کارکوونکوته وپیژندل شواورسماً په کاريې پیل وکړ.

ددې دپیژندګلوۍ په مراسموکې لوګروالي محمدحلیم فدايي، د ۳۰۳ سپین غر زون قومندان پاسوال اسدالله شیرزاد، دولایتي شورا رییس او غړوېې، پخوانی امنیه قومندان مل پاسوال محمد داوداحمدي، دکورنیو چاو وزارت څخه راغلو میلمنو، دملکي اونظامي ادارو مسؤلینو اوقومي مشرانو ګډون کړي ؤ.

دمراسمو په پیل کې د ولایتي شورا رئیس سید قریب الله سادات راغلو میلمنو ته ښه راغلاست وویل او د پخواني قومندان د کارونو ستاینه یې وکړه او نوې قومندان ته یې ډاډ ورکړ، چې ولس به له تاسو سره بشپړه همکاري وکړي.

لوګروالي ؛ نوي امنیه قومندان ته مبارکي او ښه راغلاست وویل. محمد حلیم فدايي د پخواني امنیه قومندان مل پاسوال محمد داود احمدي د کارونه اوخدمت ستاینه وکړه او زیاته یې کړه، چې په لوګر کې د امنیتي ځواکونو د ښه همغږۍ په پایله کې د تېر کال په پیښنو کې ۳۸،۵ فیصده کموالی راغلی چې په ۱۳۹۳ کال کې ۳۲۲ او په ۱۳۹۴ کال کې ۱۲۲ امنیتي پیښې درلودې او په تیر کال کې لوګرولایت دنورو ولایتونو په پرتله امنیت یې ښه ؤ. محمدحلیم فدايي د دولت له اړونده اداري څخه غوښتنه وکړه، چې داود احمدي یو ښه مقام ته وګماري.

فدايي وویل، چې ولایتي اداره، ولس، جهادي قومندانان، مدني ټولنې او ځوانان د امنیتي ځواکونو ترشاه کلک ولاړ دي.

غونډې ته پخواني قومندان محمد داود احمدي وویل، چې تغیراو تبدلي د دولت یو اصل دی او زه لوګرولایت ته د یو خادم پولیس په صفت او تنها راغلی وم او د زړګونو لوګریانو زړونه له ځان سره وړم او دخدمت په دوره کې مې هیڅ مافیا، غاصب او دنشه یې توکو قاچاقبرانو ته نه یم تسلیم شوی.

ورپسې نوې امنیه قومندان مل پاسوال محمد ایوب انصاري وینا وکړه ویې ویل: زه خپلې دندې ته وفاداره یم او د مخدره توکو او قاچاقو مخنیوي او د همدې شته مدیریت سره د ظرفیت څخه به استفاده وکړم او د خپلې خاورې دفاع په ځان فرض ګڼم او د یو قلم سره راغلی یم او د یوقلم سره به بیرته ځم.

وروسته د ولایت مقام له خوا پخواني امنیه قوندان محمد داود احمدي ته د ښو کارونو په پایله کې دریمه درجه تقدیرنامه ورکړل شوه.

# په لوګر کې د۱۶ کرنیز کانالونو دجوړولوچارې رسماُ پیل شوې

په لوګرکې دکلیوبیارغونې اوپراختیا وزارت د ملی پیوستون پروګرام له لارې دکرنیزې پراختیا لپاره د شپاړسو کانالونو دجوړولو چارې دکلیود بیا رغونې اوپراختیا وزیر انجنیرنصیر احمد دراني اود لوګروالي محمدحلیم فدايي له خوا د غبرګولې په ۴ مه په لوګر کې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ملی پیوستون له لارې دکرنیزپراختیا د۱۲پروژو دجوړولودچاروپرانیسته وکړه، چې دغه پروژې دکلیواوبیارغونې دملي پیوستون له لارې او دکرنیز وپراختیا دنړیوالې بودېجې (IFAD) په مرسته تطبیق شي.

په هغه غونډه کې چې د لوګرپه محمد آغې ولسوالۍ انګړ کې جوړه شوې وه، د کلیود بیا رغونې او پراختیا وزیر انجنیرنصیراحمد دراني، لوګر والی محمدحلیم فدايي، د ولسي جرګې غړی حاجی محمد اکبر ستانکزي، د مشرانو جرګې غړی ډاکتر محمد آصف صدیقي، د کلیوبیارغوني او پراختیا رییس انجنیر رحمت الله سروري، د لوګر ولایت د ولایتي شورا رییس سید قریب الله سادات اوغړي یې، دلوګرولایت دسکتوری چارورٍئیس غلام رسول کامران، د لوګرولایت د ملي پیوستون د ولایتی دفترمسؤول انجنیر ظفرخان، د یاد ولایت ګڼ شمیرقومي اومخورومشرانو او ولسي خلکو ګډون کړی ؤ.

د کلیوبیارغونی او پراختیا وزیر انجنیر نصیر احمد دراني په لوګرکې د ملی پیوستون دپروګرام دښه



تطبیق او بریا څخه خوښي وښوده او په دی لارکې یې د پراختیايي شوراګانو د ربښتونولي هڅې اوهاند څخه چې د دې پروګرام په پلي کیدو کې ښودلي ستاینه وکړه.

دراني وویل: د۱۲ پروژو دجوړولوچارو لپاره کابو(۳۱۸) میلیون افغانۍ لګښت په پام کې نیول شوي، چې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د کرنیزې پراختیا دنړیوالې بودیجې (IFAD) لخوا ورکړل شي. دراني زیاته کړه، په دغه ۱۲ کانالونوباندې چې ۳۰۰ کیلومترو اوږدوالی لري د ۱۸۹ پرمختیايي شوراګانو کې له لورې دلوګر په مرکزپل علم اودمحمدآغې په ولسوالۍ کې د بیا رغونې لپاره لګول کیږي. انجنیر نصیراحمد دراني وویل: چې په دغو پروژو کې د اوبولګولو کانالونه، سربندونه، پولګټې، واشونه، حفاظتي دیوالونه او ورخونه یا پرچاوې شامل دي، چې د دغه پروژوپه پلي کیدوسره به د بزګرانو په حاصلاتو کې زیاتوالی راولي.

دراني؛ وویل: چې په دغو پروژوکې ۱۵۰۰۰ فني او ۵۵۰۰۰ غیرفني کسانوته د کارکولو آسانتیاوې برابرې کړي، چې له دغو پروژوڅخه به ۵۷۸۳۳ کورنۍ ګټه واخلي.

لوګروالي محمدحلیم فدايي د کلیواوپراختیاوزیرڅخه مننه وکړه، چې لوګري ولس ته دخدمت دترسره کولو په موخه اړینې پروژې ترکارلاندې اچولي. همدارنګه والي دکلیواوپراختیا وزیراونورواړونده چارواکو څخه غوښتونکی شو، چې لوګرلپاره نورې پروژې هم په کار واچوي، ترڅو ولس ته دکارکولو اوژوند دچارو سهولتونوته په سمه توګه لاسرسي پیداکړي.

د یادولو وړده، چې په لوګر کې د ملي پیوستون پروګرام تر اوسه ۱۵۱۲ پروژې په بېلابېلو برخوکې بشپړې کړي او ګټې اخیستنې ته یې سپارلي دي.

### به متضررین سیلاب های اخیردرولایت لوگرمساعدت ...

منبع علاوه کرد به آنعده خانواده هائیکه قسماً از سیلابها متضرر گردیده بودند مبلغ پنج هزار افغانی پول نقد، دوازده لیتر روغن، دوتخته کمپل و یک تخته ترپال توزیع گردید.

قابل ذکراست که درماه ثورسال جاری ازاثرسرازیرشدن سیلاب ها، ده ها خانواده درمنطقه هونی سفلی مرکزولایت لوگرآسیب دیدند. باختر

# پنج تن مواد مخدر هدر شد

پنج تن مواد مخدر جمع آوری شده که طی عملیات های جداگانه نیروهای امنیتی ازنقاط مختلف ولایت لوگردرجریان یکسال بدست آمده بود به تاریخ ده ماه جوزا حریق گردید.



مل پاسوال محمد داود احمدی قوماندان امنیه اسبق ولایت لوگر به آژانس باختر گفت:به اثرسعی وتلاش مسئولین امنیتی ازمدت یکسال بدینسو درنتیجه عملیات های جداگانه ازساحات مختلف ولایت لوگرمقدار پنج تن مواد مخدرکشف وضبط گردیده که این موادشامل پودر،هیروئین، چرس، تریاک، مورفین ویک گرام شیشه میباشد.

به گفته منبع ،مواد متذکره با حضور داشت هئیت کمیسیون موظف، سمونوال عبدالروف رئیس اداری معینیت مبارزه با مواد مخدر، نماینده گان څارنوالی،مقام ولایت، امنیت ملی ومحیط زیست حریق شد.

منبع افزود : درپیوند به قضایای فوق، شانزده تن با هفت عدد موبائیل ونه عراده وسایط مختلف النوع نیز بازداشت شده است. باختر

# د رسنیو سره د والیانو د همکارۍ په سروې کې لوګر ولایت لومړی مقام وګاټه

غبرګولی۲۰ مه:

د کابل پریس کلب د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ له لومړۍ نیټې د جون تر لومړۍ نیټې پورې د کابل پرته د هیواد په ۳۳ ولایتونو کې د رسنیو سره د والیانو او ولایتي ادارو د ارزونې سروې ترسره کړې، چې په دې سروې کې د ۳۷۰ خبریالانو څخه پوښتنې شویدي چې په پایله کې لوګر، تخار او کونړ ولایتونه په لومړۍ کتګورۍ کې راغلي چې لوګر د ۹۵ فیصده رایو په ترلاسه کولو سره لومړی مقام ګټلی دی، همداسې په ترتیب سره تخار دوهم او کونړ دریم مقام ګټلی دی او دوهمه کتګورۍ کې بامیان او دریمه کتګورۍ کې فراه خپل ځایونه خپل کړیدي.




کابل پریس کلب د لوګر د لومړي مقام د ګټلو عمده ټکې داسې ښودلي: په تیر یوه کال کې هرخبریال چې غوښتې له والي سره مرکه وکړي والي مرکې ته حاضر شویدی، دغه ولایت د ۱۵ خبریالانو د پوښتنپاڼو د ځواب په پایله کې یوازې یو خبریال د کمې همکارۍ رایه ورکړې نور ۱۴ کسانو د بشپړه همکاریو رایې ورکړیدي، همدارنګه په تېر یوه کال کې تر ۳۰۰ پورې خبرونه خپاره شویدي چې تر ډیره معلومات خپله والي ورکړیدي، والي خپله شخصي شمېره د خبریالانو په واک کې ورکړیده چې هروخت وغواړي مرکه ورسره وکړي، د رسنیو د فعالیتونو لپاره د ښاروالۍ تالار د دوی په واک کې ورکړل شویدی، د نړیوالو رسنیو څخه غوښتل شویدي چې دلته استازي ولري، د ځمکو د غصب او غاصبینو په اړه خپله د والي معلومات شریکول د رسنیو سره ډیر ستایل شویدي، د ټولو پرمختیایي پروژو پرانستلو بلنلیکونه رسنیو ته لیږل، مطبوعاتي دفتر د ټولو رسنیو ته یوډول معلومات او پروخت مطبوعاتي اعلامیې شریکول او والي د کوم تعصب پرته په دري ژبو پښتو، دري او انګلیسې د رسنیو سره مرکې کوي.

د رسنیو سره د والیانو دهمکارۍ دلومړۍ، دویم او دریم مقام دګټلو په موخه غونډه جوړه شوې وه، چې د لوګروالي محمد حلیم فدايي او په مشرانو جرګه کې د لوګر د خلکو استازی ډاکټر اصف صدیقي، ولایتي شورا رییس او غړو یې، د کونړ والي، د ملي شورا یو شمېر غړو، مدني ټولنو، د ژورنالستانو د ملاتړ ادارو مسولینواو استازو، د ولسمشر، اجراییه ریاست او د سیمه ییزو ارګانونو د اداري مطبوعاتي مسولینو، د کابل پریس کلب مسولینو او ګڼ شمېر ژورنالستانو ګډون کړی ؤ.

په غونډه کې نورو وینا والو هم په خپلو خبرو کې د بریالیو والیانو اړیکه دولس سره وستایل، هریو په خپلو ویناوکې وویل، چې همدا د معلوماتو شریکول دي چې د ولس باور په حکومت زیاتېږي.

په پای کې د لوګروالي محمد حلیم فدايي ته د دې سروې د لومړي ګټونکي په توګه د کابل پریس کلب له خوا برابر شوی ایوارډ او ستاینلیک د ژورنالستانو د فدراسیون د مشر ضیا بومیا، د ازادو ژورنالستانو د ټولنی مشر رحیم الله سمندر، سناتور ډاکټر آصف صدیقي، د اطلاعات او فرهنګ د وزارت سرپرست او د ځوانانو معیین کمال سادات او د ولسي جرګه غړې وژمې صافي له لورې ورکړل شو.

Logar لوګر

دامتیازخاوند : دلوګراطلاعاتواوفرهنګ ریاست
مسئول مدیر: شیر محمد امیني «ستانکزی»
داړیکې شمیرې : ۰۷۰۷۲۴۴۲۲۸ /۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸
کتنپلاوي : محمدشفیق «پوپل» ، امین الله «صفا» ، محمد زاهد «سلطاني» او محمداجمل «آشنا»
محمدموسی " عدیل" دباخترداطلاعتي آژانس خبریال
کمپوز او ډیزاین : ش . امیني «ستانکزی»
برښنالیک : shir.stanikzai2@gmail.com
چاپ ځای : سهرمطبعه کابل افغانستان